# ” د صوابۍ منثور ادب کښې افسانوي کاروزيار “

## The Contribution of Swabian prose writers in Pushto Fictional Literature,,

*Athar Shah

Issn 2304-1463

**ABSTRACT:**

Swabi has got the first ever position in Pashto fictional literature by producing the foremost Pashto fiction ,, Palwashy,,. In the romantic environment of abaseen , mahaban and karamar thousends of fictional stories leaps into mind, among these fictions the legendry fictions of ,, Yousaf Khan & Sher bano has brought laurels for the writer,, Ali Haidar Joshi ,,. These romantic fictions very vividly defects the cultural,, ethical ,, social ,, traditional,, economical, aesthetical and psychological aspects of the dwellers of the area. The ever green services of the fictional writers of this area should be written in golden words.

---

*Athar Shah (phd scholar,Pashto academy University of Peshawar)

صوابۍ سیمه د مهابڼ (ګدون) د غرونو ،ځنګلونو ،د پنج پیر ،مانېرۍ او کړمار د غرونو ،د اباسین او سندریز خوړونو په موسیقۍ سپرلیز ماحول له وجې هر وخت په نڅا وي - " د ښادي خان او بیبوجانې " د توردل خان او د شهۍ " د یوسف خان او شېربانو" د رومانونو او ارمانونو د تکمیل په اړه ددې ټټوبي د ادب دا ستاني دنیا اباده او ښېرازه ده -

انسان او قیصه د یوبل دپاره نه بیلېدونکي توکي دي - ډرامه ،ناول ،او افسانه کښې قیصه مشترک ده - شېرمحمد مېنوش د صوابۍ وړمبنے افسانه نګار دے - ددوئ متعلق همېش خلیل وائي :

" دغه نه علاوه یې یوه افسانه
بهرام پکړو" ادبي ټولي پېښور
شائع کړې ده (۱)

دې نه علاوه یو څو افسانې یې " جانباز محسن " نوشۀ تقدیر " د لویې لاهور اختر رساله کښې د ۱۹۳۷ء په اوان چاپ شوې دي - یوه بله افسانه یې " افغان لڑکی " ده ،چې باچا رحمان یې " د شېرمحمد مېنوش ژوند او ادبي خدماتو جائزه باچا خان پوهنتون چارسده په مخ ۱۹۸ ذکر کړے دے - مېرنې ورونه " افسانه " نن پرون رساله دهلي کښې د مولانا عبدالقادر ۱۹۴۲ء کښې شائع شوې وه چې د هاشم او اکرم دواړو ورونړو خوندوره قیصه ده - نادر خان بزمي د ټوپۍ وړمبنےافسانه نګار دے چې " پلوشې " مجموعه یې ۱۹۵۰ء او په دویم ځل ۲۰۲۱ء کښې اتمان ګدون لیکوال ملګري ټوپۍ چاپ کړې ده - ډاکټر محمد اعظم اعظم لیکي :

" پلوشې د پښتونخوا د چاپېرچل په
مختلفو اړخونو رڼا غورزوي ددې
افسانو ماحول زمونږ لیدلے کتلے او
کردارونه هرڅو که کردارنګار ي
پکښې کمه شوې ده د اُردو سېورې

پرې شوې دے - ولې بيا هم د پښتنو
د تمدني ژوند هنداره دي -"(۲)

د ډاکټر محمد اعظم اعظم خبره په ګل بدله ،خو د بزمي ټولې افسانې ، مهرباني " مغرور" د پښتون بدل " د مور قاتل " انسان " او" ټمن " افساني يې د ټولنې د خرابيو خلاف د جهاد کار ورکوي ، اصلاحي رنګ پرې ډېر غالب دے - عبدالغفران بېکس " زړۀ چاؤدي " اول ځل ۱۹۷۱ء کښې په دويم ځل ۲۰۰۷ء کښې شائع شوې دي د دوئ متعلق ډاکټر محمد اعظم اعظم وائي :

" د زړۀ چاؤدي " په افسانو د يو نظر اچولو
نه پس دا دعویٰ په وثوق سره کېدېشي چې
بېکس د يو افسانوي ذهن څښتن وۀ - او د
هغه تخيل د افسانې په خوره وره فضا
کښې تر لرې لرې الوت کولې شو خو داسې
ښکاري چې شاعر بېکس د افسانې اړخ ته
ډېر سنجيده شوې نه دے "( ۳)

بېکس بنيادي طور دردېدلې او حساس لوړ خيالې شاعر وۀ - د چرګ هډوکے " افسانه يې شاهکار افسانه ده خو د جذبات نګارۍ له وجې ترې پلاټ جول وکړي او داستاني شکل کښې مدهم شي - پېرمحمد شارق : " د پښتو افسانې " ۱۹۷۵ء کښې د هغوئ په ژوند منظر عام ته راغلې وې -اسير منګل وائي :

"" بدل" افسانه کښې شېردل موقع مومي خو
خپل دشمن ملک مامور قتلوي نه بلکې د دوئ
دشمني په دوستۍ بدله شي - حافظ جي ،اکبري
شهيد ،ناساپي مرګ ، دګور غاړه ، دا پښتو ده
" دا منے " او توبه " هغه افسانې دي د قيصو د
انتخاب بلکې ترڅه حده فني سانحچه کښې د
اچولو ګر هم پېژني" (۴ )

پېرمحمد شارق قاري ځان سره له ګتې نيولے بوځي د قيصې مزې سستېدو ته نه پرېږدي - د قيصې نه قيصه راوباسي - طاهربخاري : " پېوند " ۲۰۰۹ء کښې پېښور نه چاپ کړے دےچې پکښې دېرش افسانې خوندي دي - د جادو مانړۍ " ۱۹۵۴ء کښې اولسي ادبي جرګې پېښور ته د تنقيد دپاره وړاندې شوې وه - " پېوند " افسانه کښې يې دا ښودلي دي چې زمونږ په وطن غېرملکيانو قبضه وکړه نو قانون يې پاس کړو چې د پېغلو اوزلمونه به پښې لاس او نور اندامونه کټ کولې شي - اومصنوعي پېوندونه به ورته لګؤلےشي -

"مېلمه ته ببجرې خان په راز راز کښې ټول حال
وئيلو کله چې د هغه د خپل ماشوم د ژبې د کټ
کولو نمبر راځي ماسپښين چې ماشوم کور ته
راشي نو د کټ ژبې په ځائې ورته پېوند لګولې
شوې وي - پوزې به هم دغه رنګ مصنوعي وې -
ببجرېخان مېلمه ته وائي چې دا د سرو ښختو
بلډنګ د مدرسې وۀ - او دا هاغه ځائې دے چرته
چې زمونږ د بچو نه مورنۍ ژبه واخستې شي او د
يوې غېرې ژبې پېوند ورته ولګولے شي - "( ۵ )

د وطن په تعليمي نظام او غلامانه پاليسو ئې سخت تنقيد کړے دے - " پېوند " افسانې چې زياتې پکښې علامتي دي ، د دوئ افسانو کښې جدت سره سره د دوئ د صوفي ازم نظريه ،اخلاقي ،او اصلاحي رنګونه ،معاشي اومعاشرتي ستونزې د هغوئ مشفقه لهجه او رويه ،انسانيت، او ستر سړيتوب ښکاره ليدېشي - نورالامين يوسفزے : " لنک روډ "۱۹۸۹ء " ډډې ونې ، ۱۹۹۶ء " د اسونو باچائي ۲۰۰۲ء دريمه لار " ۲۰۱۸ء او " څادر " ۲۰۲۱ء کښې چاپ شوې مجموعې دي - د يوسفزي افسانې د خپل ستر اهميت او ندرت او د انغښتي پلاټونو له وجې ستر معياره افسانې دي - ډاکټر اسرار د " کاکۍ " افسانې متعلق وائي :

" دوه مياشتنۍ مجله " پاڅون " کښې مې د ګران
نورالامين يوسفزي شاهکار افسانه " کاکۍ "

ولوسته ، کېديشي چې دغه نه وړاندې هم چرته د
پښتو شاهکار افسانې شائع شوې وي خو زما له
نظره ځکه نه دي تېرې شوې چې زهٔ اوس د ډېر لیک
لوست نه پاتې یم - " کاکیہ " چې د یومثالي مېرمن د
خپل فرض په تکمیل ،اخلاقي عظمت و وفادرایہ تر
سره کولو افسانه نګار په نوم مؤثر ډول او عبرتناک
انداز لیکلې ده - دا د " کاکیہ " د نورو ډېرو فطرتي
صلاحیتو نو اظهار هم دے -او په بېن المللي سطح د
پښتو افسانې معیاري حقیقت هم دے - " کاکیہ " د
خپل کردار له عمله یوه داسې دنګه مناره ده چې هره
خوا د خپل اخلاقي در نښت ،عظمت ،رفعتاو عفت
رڼاګانې خوروي " (۶ )

" کاکیہ " د خپلو واړه خوبیو سره سره ستر معیاره افسانه ده - چې د افسانه نګار په مشاهده

او لوړه تجربه دلالت کوي -

د پینځمې مجموعې " څادر " متعلق ذاکر رحمان ذاکر وائي :

" ددغه څادر یو پلؤ پورې خط غوټه دے یو داسې خط
چې پکښې د پښتون رومانس په داسې انداز کښې
رانغاړلې شوې دے چې ټوله نړیہ یې د مثال ورکولو
توان نه لري او دا ځکه چې ځومره ځومره زمونږ افسانه
نګار د پُښتنې ښځې د جذباتو ااحساساتو ادراک کولې
شي - داسې مثال به د بلې کومې ژبې په لیکوالو کښې
ډېر کم وي "( ۷ )

هیرو او هئروین دواړه د مینې ، حیا په قمیص ( څادر ) کښې پټ شوي دي - یعنې وادهٔ ئې شوې دے - تمریز یوسفزے " یوځل به راشي " ۱۹۹۳ء کښې خپله افسانوي مجموعه چاپ کړې ده چې پوره لس افسانې پکښې یې لکیلې دي - طوفان "

راځه چې ځو " شادو " شوق" بدل "یو ځل به راشي " تقدیر " بې وسه " شهزاده " او امانت " یو ځل به راشي "

" د کتاب ټائټل افسانه ده چې د آزاد خان بابا د سخت او مشکل ژوند قیصه ده - چې دولس کاله یې د پېرنګي خلاف قېد تېر کړو - په دي اُمېد چې وطن کښې به امن یا د انقلاب دوران کله راځي "(۸)

د یوسفزے تمرېز نه نوره طمع هم کېدېشوه چې د افسانه نګارۍ ددغه ارتقانه تېر شي - او نورې ښې افسانې ولیکي - خو د سیاست له وجې ترې نورې افسانې لیکل پاتې شوې دي - امیر عثمان " " د ډېوې لاندې تورتم " افسانوي مجموعه ۱۹۹۸ کښې شائع کړې ده - دوئ خپلو افسانو کښې د زړهٔ برابر ایستلے دے - دوئ د افغانستان سفیر وۀ د دوئ متعلق اسیر منګل وائي :

" د امیر عثمان خپلو افسانو کښې چې د افغانستان کوم تصویر وړاندې کړے دے - هغوئ د یو سفارت کار سره ټوله توجه د افغانانو د اسلوب او تکنیک څۀ زیات خیال ندےساتلے ، ځنې افسانې یې فقط قیصې دي - ځنرپوتاژونو ته نزدې دي - مثلا د یوډپلومېټ خط د خپلې مور په نوم مګر دا قیصې یې چې په کومه جذبه لیکلې ده هغه د قدر وړ دي "(۹)

هغه یوباقاعده افسانه نګارنه دے نه ترې مونږ دغه طمع لرلے شو -آیاز غزل : خپله افسانوې مجموعه د " کړمار " په نوم ۲۰۰۰ء کښې چاپ کړې ده - چې پکښې پوره نولس افسانې خوندي دي - د ایجاد ساحر " سرخط لاندې اظهار الله اظهار لیکي -

" تردې پورې چې ښاغلې قلندر مومند پخپله هم د " ګجرې دچاپ کېدو نه پس یا خو پښتو افسانه ښځي نظرانداز کړې ده -او یا ئې په دې حواله قلم سراسر ستومانه شوې دے ځکه خو په پښتو افسانې د

خاموشۍ خپسې ناستې وې خو اوس د ښاغلي محمد
آیاز غزل " کړمار " په پښتو افسانې د نوې هئیتي
اړخونو او تازه فکري جهتونو زېري کړي دي :-"(۱۰)

اظهارالله اظهار : د آیاز غزل په مینه کښې ډېر وړاندې تللے دے - مونږ دا منو چې د آیازغزل افسانه د نوي تکنیکي او فني اصولو او د منظم پلاټ اُودل د هغوئ افسانوي تجربه او مشاهده څرګندوي خو څنې افسانې یې فني فقدان لري ، لکه " علاج " خودکشي " د دغه ستر مقام حصول اګر چې دډېر ریاضیت او شواخون متقاضي وي - محمد علي جوهر داُردو وړمبنۍ افسانوي مجموعه " المیئے " ۱۹۸۴ء کښې او دوېمه " تنها ستاره " ۱۹۸۵ء کښې شائع کړې دي - چاپ کتابونه ددې خبرې دلیل دے -د ژوند سره تړلي موضوعات ،کلیوال ،ماحول ،ولوږه ،تنده ،تعلیم ،روزګار ، بې وسۍ او مجبورۍ طبقاتي سستم د دوئ د افسانو موضوعات دي - تاجبرخان تاج " د تاجبرخان افسانې " په نوم یې خپله مجموعه ۱۹۸۸ء کښې چاپ کړې ده - د دوئ متعلق خپله لیکنه کښې شاه وزیر خان وائي :

" اصلي مېدان ئې شاعري ده خو کله کله نثر
هم لیکي دافسانو مجموعه ئې ستاسو په
لاسو کښې ده :- "(۱۱)

ژوند سره تړلې موضوعات ستونزې ،دود دستور ، محرومۍ او ناکامۍ ،طبقاتي ماحول او د هغې خرابۍ د دوئ د افسانو موضوعات دي - ډاکټر یاسین اقبال یوسفزے : خپله افسانوي مجموعه " خوږه خاؤره ترخې کیسې " ۲۰۰۱ء کښې چاپ کړې ده - پوره یوُلس افسانې یې رقم کړې دي - د دوئ متعلق اسیر منګل وائي :

" ډاکټر یاسین اقبال یوسفزے یو ماهر تعلیم سره سره
یو تجربه کار نثرنګار هم دے - د نائن الیون نه پس
پښتون قوم چې کومو مسئلو سره مخ دے - د مقابلې
دپاره د نوې حکمت عملۍ خپلولو ضرورت دے - بیا
هم ترخو پورې چې د نوافسانې فني لوازماتو تعلق
دے نو په هغې دا قیصۍ پورنه خېژي - بهرحال د

موصوف چې کوم د ژوند متعلق تصور دے - د هغې
په وړاندې کولو کښې هغه بریالے ښکاري -"(۱۲)

ډاکټر یاسین اقبال بنیادي طور د فزکس پروفېسر سائنسدان دے خو د پښتون قام په بې علمۍ جذباتیت ناپوهۍ هر وخت اوښکې تویوي او دا ارامان لري چې پُښتانه پرمختګ وکړي - هم دغه یې افسانو کښې څرګند لیدیشي - ډاکټر سردار جمال :وړمبنۍ افسانوي مجموعه " پېغور " په ۲۰۰۷ء کښې ، " کونترې والوتې " ۲۰۱۴ء " د پېریانو کوټه " ۲۰۱ء او " زخمي مرغۍ " ۲۰۲۱ء کښې چاپ کړې دي - طاهربخاري د دوئ متعلق وائي :

" د سردار جمال د افسانو لوستو نه پس دا تاءثر قائمیږي چې ددې افسانه نګار مشاهده او تجربه ډېره وسیع ده - هغه د معاشرې په هر اړخ نظر لري او دا وجه ده چې په استوګنه کښې د زرې نه زره خبره او د معمولي نه معمولي واقعه د هغه د افسانې پلاټ کېدیشي دا وجه ده چې دې افسانه نګار څخه د افسانو د پلاټونو هیڅ کمے نشته چې زۀ یې خدائي عطا ګڼم "(۱۳)

واقعي ده سردار جمال د موضوعاتو او پلاټونو له وجې غني دے - اجمل خټک بابا غوندې سترملي مبارز شاعر او ادیب ترې هم د مستقبل امېد ساتي -د دوئ افسانو کښې طبقاتي ستونزې معاشرتي اړے ګړے ، ظلم جبر، او د استحصالي قوتونو خلاف قلمي مبارزه تانده ښکارېږي - پروفېسر ظاهرشاه ظاهر ، " وُلاړې ګټې " ۲۰۰۸ء کښې شائع کړې ده - چې پکښې هغوئ یولس افسانې خوندي کړې دي -جمیل یوسفزے د موصوف متعلق وائي :

" د ظاهرشاه کردارونه مثالي کردارونه دي - ددې وجه داده چې ظاهر شاه په خپل ذاتي ژوند کښې سپین سپېڅلے او ترڅه حده انتها پسند ګڼلې کېږي -د دۀ انتها پسندي د میني او خلوص انتها پسندي ده کوم څیزونه یا قدرونه چې ښۀ وګڼي هغو پورې ښه کلک انښتې وي

-کوم اړخونه چې کریهر او کرکژن مني د هغو نه حد درجه
ځان انغاړي " (۱۴)

ظاهر شاه ظاهر ډېر حساس او معصوم انسان دے - د دوئ افسانو کښې انځورګري ځکه ډېره ده چې هغوئ بنيادي طور يو سپېځلے شاعر دي - جنازه ، منافقت ، مور، او " مرچکے کاکا ، ئې خوند ناکې افسانې دي - که چرې افسانوي پلاټونو سره ئې نوره خواري کړې وې - نو دا افسانې " وُلاړې ګټې " به د دې نه سېوا ځلېدلې و ې - په فکشن کښې به ئې نوې نوې رنګارنګ اضافې کړې وې -

نګهت یاسمین دردمنه :" سدره ګلونه "ورمبنۍ افسانوي ټولګه ۲۰۰۷ء کښې دويمه مجموعه " بې منزله مزل " ۲۰۱۳ء کښې دريمه مجموعه " انتظار " ۲۰۱۴ء او څلورمه مجموعه ئې " سکندر " ۲۰۱۶ء کښې د چاپ په کاليو ښائسته کړې دي - د نګهت ياسمين افسانې د ښځينه ژوند د رنګارنګ ستونزو ، د کړکېژنو حالاتو او صنف نازک سره د ظلم جبر او ناروا سلوک عکاسې افسانې دي - ډاکټر سلمٰي شاهين وائي :

" د لوستو په وخت لوستونک ۱ي ته دا محسوس شي چې نګهت
ياسمين په بنيادي توګه يوه پخه افسانه نګاره ده -" (۱۵)

ښځو له په وړه وړه ناشونې ژړا ورځي د خپل حساس طبيعت له وجې په خپل زړۀ او ځيګر سخته تېروي - د ښځينه مسئلو د محروميو ، د بې وسۍ او مجبورۍ په موضوعاتو ئې قلم نه د تورې کار اخستې دے - " د بې منزله مزل " افسانه کښې د ښځې او خاوند متعلق قېصه کښې وائي -

" هغې لا څه فېصله نه وه کړې چې هغه پرې د طلاق بم
راوُغورزولو - د ګل بانو په جامو د څۀ ګناه نه لرلو
باوجودد طلاق تور داغ وُلګېدلو "(۱۶)

د ښځې اوخاوند په مقدسه رشته بې ځايه شکونه او ګمانونه کول نه دي پکار -ژوندد اعتماد نوم دے -د مينې او محبت کور په مثال لکه د جنت وي - اوله دغه جنت نه دوذخ جوړۈل نه دي پکار -

" انتظار " مجموعه کښې د " غېرت " افسانه کښې دا ښائي چې د خالدې ماما هغې ته د بدچلنۍ پېغور ورکوي - خو د هغې د وړو دوُ لورېې تندې هېڅ غم ورسره نشته - " سکندر " افسانه کښې دا ښائي چې د يوې مور دوه ځامن وي - يو سکندر او يو بل ځوے - مور بي بي هروخت د سکندر زوئ مدحې وائي - او بل زوئ ته هډو توجه نه کوي ؟ لکه: يا خدايا پاکه ! دسکندر د غم نه مې وساتې - يا الله پاکه سکندر له برے ورکړ ې - يا رب العالمينه ! زما بچے پردي وطن کښې په خپل امان کښې وساتې - "(۱۷)

سکندر هاغه هومره تابعدار او فرمانبردار نه وي څومره چې ئې هغه بل زوے - د يوې مور له اړخه داسې سلوک او دومره بې کچه مينه اوفقط يو زوئ سره څۀ ناشونې خبره لګي - بله دا چې ددې افسانې پلاټ کښې دغه فني کمزورۍ ليديشي ولې چې د مور مينه خو افاقي وي - د نګهت ياسمين څلوره واړه افسانوي مجموعې هاغه خوندورې په تول پوره د ښځينه مسئلو ، بې وسو ، مجبورو ، ټولنه کښې امتيازي سلوک ، د ناپوهۍ ، جاهليت ، بې روزګارۍ او ناروا سلوک خلاف د هغې افسانې د يوې قلمي مبارزې نه هېڅ کله هم کمه نه ده - کلثوم افضل زېدوي " رنې اوښکې " ۲۰۱۴ء کښې چاپ کړې دي - نظمونه او قيصې " يعنې پينځه پکښې قيصې دي - چې د ژوند سره تړلې مسئلو باندې يې ليکلې دي چې د " لونبو پلار " پکښې يوه دړدېدلې افسانه ده - " اعتبار په چا " (ربښتونې قيصې) يې دويمه مجموعه ده - په ۲۰۱۵ء کښې چاپ شوې ده - چې لس افسانې پکښې چاپ شوې دي - افسانې ئې مقصد او حقيقت ته نزدې د ښځينه مسئلو متعلق يې له قلمه د عبرت نه ډکې قيصې د انساني ژوند هاغه تزنبدلې او ترکېدلې کردارونه يې ټولنې ته په ګوته کړې دي - مثبت کرادونه يې د داد وړ او منفي کردارونو ته ئې د عبرت آئينې مخ په مخ ښودلې دي - عکس جمال " (شاعري او قيصې ) ئې په ۲۰۲۱ء کښې چاپ کړې مجموعه ده - رنې اوښکې ،د لونبو پلار " او عکس جمال " کښې " د زامنو پلار " د هغې نه دردېدلې قيصه ده چې - :

" زرين بابا نائي د خپل نائي توب په دکان يوه لور او پينځه زامن لوئې کړل سبقونه ئې پرې ووې د کشرعلاوالدين ښځې پسې ئې خپل کور

ولیکلو - یو زوئ هم د خپل بوډا پلار خبر وانه خستو - علاوالدین له ښځې د پلار خلاف غوږونه ډک کړل - هم هغه په بوډا پلار لاس ا وچت کړو - ددغه بې عزتۍ له وجې زرین بابا او د هغه ښځې ذهر وخښکل " (۱۸)

د کلثوم افضل افسانې د خپل چاپېرچل ، د لرې برې ، د بدعملونو د معاشرې ،د تضاداتو ،طبقاتي امتیاز ، رېښتونې قیصې دي - چې واړه افسانې ئې د انساني منفي رویو ځلنده تصویر کشي ده - کلثوم زېب ، " تورګلاب " افسانوي مجموعه په ۲۰۱۸ء کښې شائع کړې ده -چې پکښې پنځلس افسانې رقم دي - تور ګلاب ئې ټائیټل افسانه ده - ډاکټر سلمٰي شاهین " د کلثوم افسانې " سرخط لاندې لیکي !

" تورګلاب " د یوې داسې نرې او محنت کشې زنانه کردار په ګوته کوي چې ټول عمر یې په ډېرهخودداری د سرو په معاشره کښې ځانله لوړمقام پېدا کړے دے چرته چې یو داسې ښځې د سر وچتولو جرات نه شي کولې هلته ئې ټول خلق د ځان په احترام مجبوره کړي دي - "(۱۹)

دخانانو په کور کښې یوې خدمتګارې ځان له هاغه مقام پېدا کړو چې په مړینه یې خان خپلې په جدایۍ کښې په چغو چغو وژړولې - چرچوبۍ ، ډمه " سره غوښه " پېغور " خدمتګاره ، او توره کسب ګره " یې غوره افسانې دي - کلثوم زېب " ناول نګاره ،افسانه نګاره ،شاعره ادیبه د خال لښکر سرخېله د ظلم جبر او د ښځینه مسئلو د وکالت علمبرداره د رڼا مشال بلکې د نور مناره ده -

مطلوب احمد خان یوسفزے " یوګل یم رژېدلے " ۲۰۲۰ء کښې چاپ کړې ده - چې پنځلس افسانې پکښې رقم کړې شوې دي - " یو ګل یم رژېدلے " کومه چې ټائیټل افسانه ده - پکښې د خپل ځان او د خپلې ټولنې د بربادۍ او د خپلې ځپلې بدحالۍ ذکر ډېر په فنکارانه طریقه کوي - روښان یوسفزے وائي :

> " دې قيصو کښې د اصلاح او سبق رنګ ډېر جوُت دے اوپکار
> هم دي چې زمونږ سترګه صرف د مرضونو ښودنهنکړي بلکې د
> هغې مرضونودپاره دارو دُرمل او د هغو د بېخ اېستلو دپاره هم
> څۀ لار ګودروښائي او دې لړ کښې ښاغلي مطلوب احمد خان
> يوسفزئي د يو اصل مسيحا په شکل کښې ځان څرګند کړے او
> منلے دے - "(۲۰)

د مطلوب احمد خان قېصې ( افسانې ) ډېرې د خوند او زړۀ راښکونکې دي - دا قېصې اخلاقي سياسي ،نفسياتي،،سماجي اقتصادي او اصلاحي رنګونه لري - " يوګل يم رژېدلے " کښې ګل پاڼه ، د ضمير آواز " عبدل کاکا ، زۀ خو ليونۍ نه يم ، د هوا مرغۍ ،نوکر ،د ژوندرموز ، چې څه کرې هغه به رېبې ، د موصوف افسانه نګار مافي الضمير او د هغه د خُلوص او احساس څرګندې څرېکې دي- د مذکوره افسانه نګارانو نه علاوه نور هم ګڼ افسانه نګاران افسانې ليکي او مختلف قسم رسالو (ګڼو) کښې وخت په وخت شائع کېږي -دغه ليکونکيو کښې همېش ګل همېش ، تاج بهادر تاج ، اجمير افغان،نورالانور مانېروال ،تصور مانېروال ، د عبيد غيور ، " کُرونا " د ټکور يوسفزے ،" منجيله " دوه سپي " "ملامته " هغه تاسو " او توبه خدايه توبه ُ د طلا محمد شباب ، " مرده خانه " افسانې د قدر وړې افسانې دي -

حوالې :

۱- :خلیل همېش ، پُښتانهٔ " لیکوال ۱۹۵۸ء منظورعام پریس پېښور مخ ۱۱۰

۲-: اعظم محمد اعظم " پښتو افسانه " (تحقیق و تنقید) ۱۹۷۶ء مخ ۱۱۲

۳- :هم دغه کتاب مخ ۱۴۶

۴-: منگل اسیر ( پشتوافسانے کے سوسال) اول ځل ۲۰۰۰،دوېم ځل ۲۰۱۲،منگل کتاب کورمحله جنگي پېښؤر،مخ ۷۲

۵- :بخاري طاهر (پېوند) " جدون پرنټنګ پریس پېښور ۲۰۰۹ء مخ ۲۰۷

۶-: یوسفزے نورالامین " دریمه لاره " ۲۰۱۸ء مرکه مردان مخ ۹

۷:- یوسفزے نورالامین " ځادر" ۲۰۲۱ء اعراف پرنټرز محله جنگي پېښور مخ ۱۰

۸:- یوسفزے تمریز " یوځل به راشي " ۱۹۹۳ء (دیباچه افضل رضا اکوړے نوښار مخ ۱۱

۹: پشتوافسانے کے سوسال ،مخ ۱۷۰

۱۰ : غزل " ایاز محمد" کړمار" ۲۰۰۰ء انصاري پرنټرز محله جنگي پېښور، مخ ۸

۱۱ : تاجبرخان " دتاجبرخان افسانې " ۱۹۸۸ء دیباچه شاه وزیر خان یارحسیني مخ ۱

۱۲ : -پشتوافسانے کے سوسال ،مخ ۱۹۷

۱۳: جمال ،سردار، ډاکټر " پېغور " (دیباچه) طاهربخاري ،۲۰۰۷ء مخونه ۱۳، ۱۴

۱۴: ظاهر،محمد، ظاهرشاه " پروفېسر " ولاړې کتې ۲۰۰۷ء سریزه جمیل یوسفزے شېوه اډه صوابۍ مخ ۳

۱۵: دړمنه ،یاسمین، نګهت، ډاکټر " سکندر " افسانوي مجموعه ۲۰۱۶ء اعراف پرنټرز پېښور مخ ۴

۱۶ : ایضا بې منزله مزل " ۲۰۱۳ء بي اے پرنټرز پېښور مخ ۵۶

۱۷ : زېدوې ،افضل، کلثوم " رنړې اوښکې " ۲۰۱۴ء پېښور مخ ۱۱

۱۸: ایضا (عکس جمال) ۲۰۲۱ء پېښور مخ ۱۰۹

۱۹ : زېب ،کلثوم " تورګلاب " اعراف پرنټرز پېښور ۲۰۱۸ء مخ ۷

۲۰ : یوسفزے ،خان ،احمد ،مطلوب "یو گل یم رژېدلے" ۲۰۲۰ء ایډمائر گرافکس پرائیویټ لمټیډ مخ ۱۳۳